# زورور کۀ جادوګر

**مشتاق الرحمٰن شفق**

وائي چې يو سړي ګُړه چرته په سترګو نۀ وه ليدلې چې د چکې نه ئې چک ووهۀ او خُلۀ ئې خوږه شوله نو شکر ئې ووېستۀ. وئيل ئې: "خدايه! ستا نامه هم خوږه ده ولې دا ګُړه هم ځان ته څۀ وائي" ايمان او عقيدې ته مې دې خبر وي. زورور خو ايکې يو د الله تعالٰي ذات دے چې نۀ ئې سيال شته نۀ ئې مثال شته خو هغه په خپلو ټولو مخلوقاتو کښې په انسان دومره مئين دے چې په خپلو صفتونو ئې هم نمانځلے دے او په دې اړه ئې "زورور" کړے هم دے او بيا دا "زورور" په څو څو معنو کښې پکارولے هم شي. ښاغلے اکبر سيال هم په څو څو لحاظه "زورور" دے. د "پام" تنئ دستوره ئې لنډ مثال دے. ګني هډو دې خبرې ته پام وکړئ، اوسني دور کښې يو لوئے الغاؤ تلغاؤ جوړ دے "سړيتوب" له هر څۀ نه کنګال شوے دے. په هر لور يو وحشت او دهشت خور شوے دے، عزت او ناموس په سولئ اوېزان دے. د ژوند معيار پېسه ګرځېدلې ده، د وينو ارزانې ده او انسان په دوه نيمو پېسو هم ګران دے. خوار اولس د حالاتو جبر د پولئ پړق ته کښېنولے دے. د ډوډئ په غم ئې داسې اخته کړے دے چې د غنمو اوړو او نورو ضرورتونو سم کروکور کړے دے او داسې در په ديکې دے چې په پښتونخوا اور پورې کوي. داسې

بوږنونکي چاپېريال کښې به د علم او ادب خبرو ته څوک غوږونه تکئ کړي!! او کتاب سره به يارانه څۀ وپالي؛ نو هر کله چې کتابونه د هېرتيا په تاخونو کښې زړېږي او ورستېږي د بې غورئ وېنۀ او چينجي پرې لګيا وي، خوري ئې يا چې حرفونه او لفظونه د يوې کنجرې، د تسنو وسنو ګونګروګانو نه هم زيات بې وزله شي او د سيالو سيال شاعر په دې کښې هم خپله وظيفه ترسره کوي خپل تخليقونه مېنځ ته راوړي او په شعوري ډول تيارۀ تيارۀ او ساه ډوبې ماحول کښې د فکر مشالونه بلوي نو "زورور" نور څۀ ته وائي! "ژوند جانان"- "رنګونه"- "په جنګ دې اور ولګي" – "دا پرهرونه به ګنډل غواړي" د يوې سلسلې مهمې کړئ دي او نن چې د کومې شعري ټولګې "اوښکې اوښکې مُسکيتوب" د مخکتنې دستوره کولې شي نو دا هم د سيال د ادبي مزل يو خاص پړاؤ او د فکري تسلسل شاهکار دے. بله دا چې د دۀ په ادبي شخصيت يو شمېر منورينو محترم اجمل خټک، ښاغلي افراسياب خټک، ښاغلي رحمت شاه سائل او په تېره تېره سعيد ګوهر صاحب پرله پورې تبصرې کړې دي او تنقيدي جائزې ئې اخستې دي، دغه ټولې ليکنې د لوستنې او ستائنې جوګه دي خو زۀ ګنم چې د سعيد ګوهر صاحب ليکنه يوه "غبر

معمولي واقعه" ده. ګوهر صاحب هم د ادبي دنیا یو "زورور" سړے دے او دا "زورور" چې د اکبر سیال د شعر او هنر د کمال اعتراف کوي نو ارومرو به منو چې اکبر سیال هم څۀ معمولي "زورور" نۀ دے.

چې د ښکلیو شونډې خوځي په سیال خـــــــــــــــوځي
دا تـور مخـے زورور کـۀ جـادوګر دے

د شعر وئیلو په فن کښې هم اکبر سیال زورور دے او د شعر د تاثیر له رویه جادوګر هم دے. د دۀ شعرونه د شعور بخري، د دۀ خیالونه د احساس شغلې، د دۀ فکرونه د ژوند پلوشې او د دۀ سندرې د سپرلي وړمې دي. په وېنا کښې ئې شور هم شته او زور هم شته.

بخت چې اودۀ وي هم احساس نۀ لري
کرښې به څۀ کوي چې لاس نۀ لري

د رحمان بابا روح به په دې شعر خوشحاله شوے وي چې زما د فکر سیال پېدا شۀ، دے هم درس ورکوي خو په نوي پېرایه کښې، شاعر ته پوره پوره احساس دے چې ړاندۀ سماج د غلطو عقیدو او وهمونو په کوټګۍ کښې بندیوان دے. د دۀ په بده ورځ ئې زړۀ خُوږ شي خو نۀ طنز کوي، نۀ پېغور ورکوي او نۀ سکونډاره لګوي. بس په شائسته او بې ازاره لهجه کښې د ټولني د بې حسۍ، بې عملۍ او بې وزلۍ بیان وکړي او دغسې خپل سماج ته د ژوند احساس ور وبخښي.

کرښې به څۀ کوي چې لاس نۀ لري

په عمومي ډول د ذوق او شوق نظر د غزل په اننګو پرېوځي ځکه چې د دې محبوب او نازک صنف کړۀ وړۀ زړۀ راښکونکي وي. د لطیفو احساساتو او نازکو تنکو خیالاتو هینداره وي او هر شعر د یوې جذبې عکس ښکاري خو ښاغلي اکبر سیال یواځې غزل سره مینه نۀ کوي یو شمېر نورو اصنافو کښې ئې هم د خپل فکر او فن ښائستونه انځور کړي دي. بیا په تېره تېره د پښتو شاعرۍ تعلق خپل ماحول، ټولنې دود دستور او خاورې سره دے نو په دې کښې د ملي تهذیب او کلتور نخښې نښانې، انساني مینې او مسئلې، دیني عقیدې هر څۀ راځي. "اوښکې اوښکې مسکیتوب" کښې د شاعرۍ رنګ په رنګ صنفونه او د ژوند په حواله رنګ په رنګ موضوعات د لوستونکي نظر ته مُسبړي. دغو کښې غزل، نظم، قطعې، ساندې، ویرنې او سندرې نغمې او ترانې شاملې دي چې زمونږ د سماجي رویو او ټولنیز ژوند عکسونه دي خو هم دغه عکسونه د دې تخلیقي فنکار او شاعر له خوا اولسي او سیاسي ژوند ته قیمتي بخښنې دي. دۀ چې ګام په ګام د فکر ډېوې بلې کړې دي، هغه ورکو یا اوترو لارویو ته لار سمولے او منزل په نخښه کولے شي.

د تُورو دور لاړو او د متو دور تېر شۀ
تورزنه! تورزني نن په خبرو د بهلول شي

"اوښکې اوښکې مسکیتوب" کښې ښاغلي اکبر سیال تر ټولو اول خپله قبله درسته کړې ده دا یو مختصر آزاد نظم دے چې پکښې شاعر الله پاک ته سوال زاري کوي:

زما د ژوند د جوړېدو په خاطر
چې مې قبله چې مې ا یمان سم شي
ما دې د خپل زړۀ نه بې کوره نۀ کړې
ځکه چې زړۀ د یو انسان د وجود
ستا د رڼا او ستا د نُور کعبه ده

زمکـه اسـمان او دغــه ټـول کائنــات
بغېــر د زړۀ نــه څــۀ معنٰــي نــۀ لــري

"میراث"- "عوام"- "ارتقاء"- "لاهور" او دغسې نور ګڼ نظمونه چې پکښې ملي اتلانو لکه باچا خان او خان عبدالولي خان ته د مینې او عقیدت پېرزوئنې په فکري او نظریاتي توګه وړاندې کړې شوي دي او د لارې رفیقان ذاکر او صاحب شاه صابر هم یادوي او د شاعر کمال دا دے چې په یو دوو مصرعو کښې ئې د "لال مسجد" خونړۍ پېښه هم محفوظه کړې ده.

زمونږ په سیمه د خپلواکۍ او واکمنۍ نعرې بیا بیا وهلې شي خو نۀ پرې نعره وهونکي پوهېږي او نۀ پرې اورېدونکي غور کوي. اکبر سیال دغو ته فکر او شعور ورکوي او د مسئلې مونږ ته ئې رسوي:

اسمان چې لږ د دوړو نه صفا شي لېونیه
چې هر خوا ته رنګونه او رڼا شي لېونیه
چې څۀ کړې نو کړه چې بیا څۀ رېبې نو رېبه
دا خاوره دا وطن چې کله ستا شي لېونیه

د دې دور انسان (د سائنس او ټېکنالوجۍ په اړه) د تهذیب د ارتقاء لوړ بام ته د رسېدو دعویٰ کوي. په سپوږمۍ ئې قدم اېښے دے. د پورته فضاګانو او عالمونو رازونه سپړي او تصویرونه ئې زمکې ته رالېږي، ولې دے بیا هم د وحشت او بربریت څخه خلاص شوے نۀ دے. مهذب انسان او وحشي انسان کښې د زمکې اسمان هومره فرق دے. د الله تعالٰی د فرمان په رڼا کښې پوهېدونکي او ناپوهه یو برابر نۀ شي کېدلے، وحشي انسان د خپلو وحشي جذباتو وجود، خپل شتوالے ګڼي او د خپلو فطري جبلتونو، هوسونو او خواهشونو تکمیل ته اصل ژوند وائي، خو مهذب انسان یواځې د خپلو جذباتو وجود کافي نۀ ګڼي. دے د ځاني ژوند او انساني ژوند په ساهو مقصدونو د پوهېدو هڅې کوي. د دې د پاره هغه د خپلو جذباتو، تهذیب او تطهیر کوي. یعنې انسان د انسانیت، سړېتوب او د شرف اعلي مقام ته هله ورسي چې د نفس خونړے هاتي د صبر او استقامت په کمند وتړلے شي.

زما په خیال انساني ټولنه کښې دا وظیفه دین مذهب پوره کوي. دغه کردار شاعري هم ادا کوي. لکه څنګه چې دین مذهب د انسان لارښودنه کوي، د دۀ د اعمالو او اخلاقو روزنه کوي، جُخت دغسې شاعري هم د انساني جذباتو او احساساتو رابېدارولو په اړه ذهن او فکر روښانه کوي. شاعر چې شعر، نظم یا فنپاره تخلیق کوي نو دې کښې د شاعر جذبات په فهم او ادراک او شعور اړه لري. دے د خپلو جذباتو شدت په قابو کښې وساتي، بیا خپلو محسوساتو او کیفیاتو له د اظهار داسې پېرایه او بڼه ورکړي چې لوستونکے اورېدونکے د دۀ د ذهني او فني تجربې نه یو خوشګوار تاثر واخلي خو د تخلیقي فنکار د زړۀ درد او خُوږ هم محسوس کړي. احساس او شعور ئې راولړزېږي، د دې مثال "اوښکي اوښکې مسکیتوب" کښې هغه نظم دے چې سر لیک ئې دے "افغانستان- د یو نظر په لیدو" چې په دې شعري ټولګه کښې مرکزي حېثیت لري. د دې نظم هر یو شعر د جنګ ځپلي افغانستان د یوې یوې لمحې ویاند تصویر او په سرو وینو لړلے هېواد د یـوې سـلګۍ سـلګۍ سـیمې ګویانـه تـاریخ محسوسېږي. د سائل او اسد په ملګرتیا کښې

تخلیق شوے د سیال دغه ارمانژن نظم به د شعر په تاریخ کښې یو تلپاتے نقش وي.

دا زېبــا زېبــا وطــن د ملنــګ جــان دے
دا هغــه دے کــۀ دا بــل افغانســتان دے
مطمــئن د تمــدن پــه کــور کښــې نــۀ شــۀ
چــې و اپــس د ســمڅتې دور تــه روان دے
په چوري چوري شیشه کښې ځان ته ګوري
د بامیــان صنم پــه ځــان پــورې حېران دے
لــولکۍ دې پکښــې نــۀ ګرځــي بــې واکــه
دا د رېــرو بــڼ د مینــې قبرســتان دے

اکبر سیال یو وطن پال او د قام مینه وال شاعر دے، ترقي خوښ شاعر دے، د دۀ د مینې غېږه ښه توده او دومره کشاده ده چې د هرې ژبې هر رنګ او هر نسل انسان پکښې ځائېدے شي. دے چې د خواخُوږۍ د کومې جذبې او کوم احساس اظهار کوي او بیا ئې چې د شعر پېرایه کښې د پئېلو هڅه کوي نو د یو کامیاب تخلیق کار په شان د خپلې مینې او درد خوږ شعوري ادراک هم لري. مشاهده ئې ښۀ تېزه ده، د خپل چاپېرچل او خپل عصر د لرې نزدې ټول عکسونه او ټول نقشونه د دۀ د تخیل په موتي کښې راټول شي او بیا د نوي نوي خیالاتو او نوي نوي تصوراتو په اړه رامخته شي. په خارج او داخل کښې لړزېدونکي احساسات او کېفیات د دۀ په شعر کښې لکه د سپرلي د انګازو محسوسېدلے شي:

د ګلونو د سرو سترګو یو غورځنګ دے
اړولے چا پــه دې خاوره کښــې رنــګ دے
لاس ترلــي لېــوني ورتــه غــوړ غــوړ شــو
دا د کــومې دلربــا د بنګــړو شــرنګ دے
د پــت غرونــه د وختونــو چپــو یــوړل
ســیال لا هغســې ولاړ پــه نــام و ننــګ دے

دا هم هغه خبره شوه چې شاعر په خپل دور کښې د ادراک پـه اوچت بـام او لـوړ مقـام لیـدلے ښکاري. اخري مصرعه خپلې نظریې او عقیدې سره د کلک تړون، "کومټمنټ" ځرګندونه کوي.

اکبر سیال مست خېل دے نو د دۀ په شعر کښې د حسن او عشق شوخي او مستي هم په چورلکونو ښکاري. دلته د غزل په طرز کښې دوو نظمونو ته اشاره کول مناسب ګڼم. دې کښې سیال "هلک" او "جینۍ" ستائیلي دي. دواړه نظمونه د شاعرانه تجربې او مشاهدې حسن او جمال هینداري دي. د "جینۍ" (ص: **25-31** ) په حواله دغه نظم نه کۀ صرف یو شعر وویستے شي نو د پنځه دېرش ادبي ملغلرو امېل دے او هرې غرځنۍ پښتنې جینۍ ته ئې په غاړه کولے شي. ښاغلي سیال دې روان او بهاند نظم کښې د خپلې ټولنې او ماحول په اړه اغیزمنه عکاسي کړې ده:

د بــاد ښــه نــۀ شــي ســرتوره نــۀ شــي
خدایــه د ننــګ او پــت نــه ډکــه جینــۍ

"هلک" ته چې شاعر کومه مینه او احترام ورکړے دے، هغه نظم لا د ستائیلو دے (**124-127**):

قلم به ښۀ وي د ټوپک تر شپېلۍ
په نُور کوه، د کور ځارنه لوئے شې!
وخت پـه درنـه سترګه کتلـي ورتـه
چا چې د ژوند کړې پالنه، لوئے شې!

سیال چې د ننګ او پت پالنه او ساتنه کوي نو دا په اصل کښې د لوړ انسانیت د احترام وظیفه ده.

د نفرتونو خاورې مۀ بادوئ دا څۀ کوئ
ښکلي په سترګو باندې مۀ رږندوئ دا څۀ کوئ
غرونه، ګلونه، چنارونه، د مرغو ټالونه
دا ګل درې په اور کښې مۀ سوزوئ دا څۀ کوئ

سيال د خپل تهذيب او کلتور کلک منونکے او د خپل دور نمائنده شاعرانو کښې شمېرلے شي. ځکه نو د دۀ نظر هم د ژوند په ټوله منظر نامه خور دے. هغه وينې چې د خوږ وطن واکداران د سوال کچکول په غاړه لې په لې در په در خېراتونه راټولولو پسې ګرځي، دا بېله خبره چې لباس پوشاک ئې د بادشاهانو اغوستي وي، ملي شاعر د دې کار او کردار څخه وېزاره دے.

دا کړنګ کړنګ د سکو مې په مزغو لګي ډېر بد
دا سر پرېکړے ښۀ دے چې شور ختم د کچکول شي

د دې شعر د دوېمې مصرعې نه يو تاثر دا هم اخستے کېدلے شي چې انتها خوښې، د ناجغه او پربوتو رويو په ضد راولاړېږي. "اوښکې اوښکې مسکيتوب" کښې د دې اخري غزل يو بل شعر هم د پاملرنې جوګه دے چې هېڅ لفظي يا معنوي کړلېچ پکښې نۀ شي ليدے.

کچکول خو د يورپ د ترقۍ نه هم ونۀ وت
غربت به څنګ بهر زمونږ غريب وطن د خول شي

ګويا شاعر د خپلې عقيدې او نظريې په اساس بادارانو ته پتون ټپولے دے، زمونږ بزرګان دين والمتين کۀ په مېنځ د دې مسئله کښې هر څۀ فرمائي خو دې تېرو ورځو کښې په ماسکو او نورو ښارونو او د بېلاروس او يوکرائن کښې د بالشويک انقلاب يو نوي يمه **91** کليزه وه نو د کميونسټ ګوند مشر ګېنادي زوګانوف په ډکه خلۀ دا خبره وکړله چې:

"د نن نړيوال مالياتي بحران، د سرمايه داري نظام په عملي توګه رښتيا ثابته کړله، د سرمايه دارۍ، تاريخ د بحرانونو تاريخ دے او سامراجي هېوادونه اوس د نادارو هېوادونو د استحصال دپاره د سوشلسټ اصلاحاتو اسره لټوي".

د زوګانوف نه به بېرته راشو، "اوښکې اوښکې مسکيتوب" ښاغلي سيال وئيلي دي:

نن مې زړۀ داسې، د خپل زړۀ په ورانېدو خفه دے
لکه مُلا چې څنګه د روس په ماتېدو خفه دے
دا خو يو زۀ وم چې ولاړ وم په سنګر لکه غر
هغه چې ځان له شۀ د ځان په ورکېدو خفه دے

## اطلاع

د «پښتون» اداره په افغانستان کښې مېشته افغانانو ورونو ته زېرے ورکوي چې اوس تاسو «پښتون» مجله په افغانستان کښې د وېښو ځوانانو له دفترونو نه تر لاسه کولے شئ.

(اداره)

"د اوښکې اوښکې مسکيتوب" پائې کښې ذکر شوے دا غزل د سيال د شاعرۍ يو نمائنده غزل هم دے. په دې کښې د حسن غرور محسوسېږي او د مينې سرور هم، د ژوند رنګ هم پکښې شته او د مقصد آهنګ هم. زۀ خو چې د دې غزل يو يو شعر لولم او د معنې تل ته ئې د رسېدو هڅه وکړم او څنګه پرې پوهه شوم نو سترګو کښې مې اوښکې هم وګرځي او په شونډو مې مُسکا هم خوره شي. داسې حال کښې زما د خيال په ټال دا سوال هم

څۀ په کمال کمال جُوته وخوري چې د "اوښکې اوښکې مسکيتوب" دا پرهر ژلے شاعر اکبر سيال- "تورمخے نا" خپل سماج ته روڼ مخے فنکار- "زورور کۀ جادوګر د ے"!!؟

دا تږې تږې دشتې باران غواړي د سرو وينو
زخمونه چې مسکي شي نو ګلونه د غانټول شي